# د رمضان میاشت او امیرِ اهلسنّت

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د رمضان مياشت او اميرِ اهلِسنّت

## دُعائے جانشِینِ عطّار

يا **الله پاکه!** څوك چې دا رِساله ”د رَمَضَان مياشت او اميرِ اهلِسنّت“ اُولوَلي يا ئي وَاورِي هغه د عاشقِ رَمَضَان په برکت د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** حقيقي قدردان جوړ کړې او هغه د فيضانِ رمضان د دولت نه مالامال کړې او **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** د هغه د بخښنې ذريعه جوړ کړې. اٰمِیْن بِجَاهِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د چا په خواه کښې چې زما ذِکر اُوشو او هغه په ما باندې دُرود شريف اُونه لوَستَلو هغه د جنّت لاره پريښودله.

(معجم کبیر ج 3 ص 128 حدیث 2887)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ځلمو اعتکاف

د 1399ھ بمطابق 1979ء خبره ده چې د ”نور مسجد“ کاغذي بازار، کراچۍ د 29 کالو امام صاحب په ژوند کښې اول ځل د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په مياشت کښې په آخرۍ عشره کښې ”اعتکاف“ اُوکړو. په جمات کښې د امام صاحب نه علاوه بل څوك اعتکاف کوونکے نه

وو. د شپې به ئې دوستان او ملګري راغلل نو رونق به جوړ شو، عموماً سحر به امام صاحب په جمات کښې یواځې وو، ولې چې هغه د خیر خیرات کولو والا میمن قوم علاقه وه ځکه به د سوالګرو د آوازونو او د مدرسو د پاره په مائیك باندې د چندے غوښتلو د اعلانونو په سبب د امام صاحب په خوب کښې خلل راتلو، د مسلسل بےآرامئ په وجه امام صاحب تبې اونیولو نزدې وه چې امام صاحب د ډیر تنګیدلو په سبب کور ته تشریف وړے وے او اعتکاف ئې مات کړے وے خو د **الله** پاك رحمت داسې شاملِ حال شو چې حضرت علامه مولانا قاري مُصلَحُ الدِّین صاحب رحمۃ اللہ علیہ تشریف راوړو او د هغوئي راتلل د امام صاحب د پاره د تسلئ سبب اوګرځیدو او دغسې امام صاحب لَس ورځې اعتکاف پوره کړو. د امام صاحب په زړه کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك عقیدت او احترام د مخکښې نه نقش شوے وو، نور برکت هُم مِلاو شو او راروان کال کښې ئې بیا د اعتکاف ذهن جوړ شو بلکه نور خلق ئې هم د اعتکاف د پاره تیارول شروع کړل چنانچه د امام صاحب په کوشش دوه عاشقان رسول د اعتکاف د پاره تیار شول، د امام صاحب په زړه کښې د اعتکاف شوق او خوند نور زیات شو، او بل کال له ئې نور اسلامي وروڼړه د اعتکاف د پاره تیارول شروع کړل "**الله** پاك د چا محنت نه ضائع کوي" آخر دا چې په 1401هجري بمطابق 1981ء کښې دغه جُمات ته د اعتکاف د پاره 28 ځلمي راغلل، او ښه نوراني محفل جوړ شو، د امام صاحب دا عظیم الشّان کار مشهور شو چې په نور مسجد کښې 28 ځلمي

د لسو ورځو اعتکاف کوي، حالانکه د دې نه مخکښې صورتِ حال دا وو چې په جمات کښې به یو یا دوه مشران کسان اعتکاف ته ناست وو بلکه بعضې ځایونو کښې خو به خلقو مشر کس په سوالونو اعتکاف ته کښینولو او د مختلفو کورونو نه به ورله پیشمنے او روژه ماتے راتللو، یقیناً په داسې ماحول کښې 28 عاشقان رسول او هغه هم ټول ځلمي په یو جمات کښې د اعتکاف د پاره راجمع کول د کمال خبره وه، امام صاحب نهایت شریف، مُخلص، عبادت گزار او د دینِ اسلام د پاره د قربانۍ جذبه لرلو والا د **الله** پاك نیك بنده وو، چې د هغوئي مسلسل د نیکۍ د دعوت په وجه په پوره دنیا کښې اعتکاف عام شو.

(ماهنامه فیضانِ مدینه، اگست 2017، ص38)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼرو! تاسو ته پته ده چې هغه نیك صفت، عاشقِ رمضان، امام صاحب څوك وو؟ هغه د شریعت و طریقت پابند، با اخلاقه و باکِرداره امیرِ اهلِسنّت بانئ دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه وُو. **د الله ربّ العزّت دې په امیرِ اهلِسنّت** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه **باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بےحسابه بخښنه اُوشي.**

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

مسلک کا تُو اِمام ہے اِلیاس قادری | تدبیر تیری تام ہے الیاس قادری
تنہا چلا تُو ساتھ تِرے ہو گیا جہاں | میٹھا تیرا کلام ہے الیاس قادری

سنّت کی خوشبوؤں سے زمانہ مہک اُٹھا | فیضان تیرا عام ہے الیاس قادری

صَـلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د رمضان نه قربان شم، اعتكاف خو د رَمَضَانُ الْمُبَارَك صرف يو عبادت دے ګنړي د رَمَضَانُ الْمُبَارَك خو ټوله مياشت د عبادتونو، رحمتونو، بركتونو، خزانه ده، د الله پاك د خپل خوږ حبيب او آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمَّت باندې ډير لوئ احسان دے چې هغه مونږ ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په شان عظيم الشّانه "ميلمنه" رانصيب كړے دے. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اهميّت د پاره خو صرف يو دغه فرمان د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پورا دے چې: كه بندګانو ته معلومه وے چې رمضان څه شې دے نو زما امّت به تمنّا كولے چې كاش! ټول كال رَمَضَان وے. (ابن خزيمه، ج 3، ص190، حديث: 1886)

ہر گھڑی رحمت بھری ہے ہر طرف ہیں برکتیں
ماہِ رَمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے

**اے عاشقانِ رسول!** د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د فيضان به څه وائې! د دې خو هر ساعت د رحمت نه ډك دے، رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې هره يوه نيكي د اوياؤ يا د دې نه هم زياته ده. (مرآة المناجيح، ج3، ص137) د نفلو ثواب د فرضو برابر دے او د فرضو ثواب اويا چنده ته رسي، عرش اُوچتوُونكې فرشتے د روژه دارو په دعا باندې آمين وائې او د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

فرمان مطابق د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژه دار د پاره مَهیان د روژه ماتي پورې دعاګاني کوي.

(الترغيب والترهيب، ج 2 ص 55، حديث: 6)

نصیب تیرے کرم سے چمک اُٹھا یارب
جہاں میں پھر مہِ رمضان آگیا یارب!
ہے لاکھ لاکھ تِرا شکر پھر دیا رمضان
کرم سے ذوقِ عبادت بھی ہو عطا یارب

## اعتكاف زوړ عبادت دے

اے عاشقان رسول! تيرو شوو امّتونو کښې هم د اعتكاف عبادت موجود وو. چنانچه الله پاك فرمائي:

وَ عَهِدْنَاۤ اِلٰۤى اِبْرٰهٖمَ وَ اِسْمٰعِیْلَ اَنْ طَهِّرَا بَیْتِیَ لِلطَّآىِٕفِیْنَ وَ الْعٰكِفِیْنَ وَ الرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۱۲۵﴾

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: او مونږه تاكيد اوکړو ابراهيم او اسمٰعيل ته چې زما کور ښه صفا سُتهره کړئ د طواف کوُونکو، اعتکاف کوُونکو او رکوع او سجدو کوُونکو دپاره. (پ1، البقرة: 125)

## د دوَو حجُونو او دوَو عُمرو ثواب

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د لسو ورځو اعتکاف اُوکړو هغه داسې دے چې دوه حجه او دوه عمرے ئې اوکړې. (شعب الایمان، ج 3، ص 425، حديث: 3966)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عاشقِ رمضان عظيم الشّانه ديني كار

اے عاشقان رَمَضَان! د امير اهلسنّت په 1401 هجرئ كښې د اعتكاف نه پس د عاشقان رسول د مدني تحريك ''دعوتِ اسلامي'' آغاز اوشو. دعوتِ اسلامي او بانئ دعوت اسلامي امير اهلسنّت باندې د **اللّٰه** پاك او د هغه د حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې نظرِ عنايت دے چې د كله نه دا مدني تحريك جوړ شوے دے د هغې ورځې نه نن 1442 هجرئ پورې تقريباً 41 كاله اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په ديني كارونو كښې كله هم نه دے شاته شوے بلكه مخ په وړاندې روان دے، چنانچه د دعوت اسلامي اولني مدني مركز جامع مسجد گلزار حبيب كراچۍ كښې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې په آخرئ عشره كښې د اجتماعي اعتكاف سلسله جاري شوه چې په هغې كښې تقريباً 60 عاشقان رسول اعتكاف اوكړو.

اے عاشقان رمضان! كيدے شي چې تاسو ته دا معلومه شي نو خوشحاله به شئ چې د نن نه تقريباً 41 كاله مخكښې صرف 28 عاشقان رسول په يو جمات كښې اجتماعي اعتكاف كړے وو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه دا سلسله مسلسل زياتيدله، زياتيدله تر دې چې په 2019ء كښې صرف په پاكستان كښې د دعوت اسلامي مدني تحريك دعوت اسلامي تحت آخرئ عشره كښې تقريباً يو لاك او دوه څلويښت زره عاشقان رسول اعتكاف اوكړو، د اعتكاف په ذريعه سمدستي مدني قافلو د پاره او د مختلفو كورسونو د پاره د تيار شوو خوش نصيبو شمير د دې نه علاوه دے. **اللّٰه** پاك د امير اهلسنّت دا دعا قبوله كړي ده چې:

عطا ہو دعوتِ اسلامی کو قبولِ عام اسے شُرور و فتن سے سدا بچا یارب!

[يعني يا اللّٰه پاكه دعوتِ اسلامي عام او مقبول كړې، او دا د شرونو او فتنو نه هميشه اوساتې]

## رَمَضَانُ الْمُبَارَك څه دي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! مشهوره محاوره ده چې: د زَرو قدر په زرګر وي. که ناپوهه ماشومانو يا د هِيرے جواهراتو نه ناواقفه خلقو ته ملغلره په لاس ورشِي نو هغوئي به هغه صرف يو خائسته کاڼړے ګڼړي، خو هغه ته به څه پته وي چې دا وړه شان ملغلره څومره قيمتي ده، دغه شان مونږه نادانه خلق هُم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د بَرَکتونو نه په حقيقي معنو کښې بےخبره يُو. که مونږ ته [په صحيح معنو کښې] عِلم وے چې دا دومره د رحمتونو، برکتونو، او د بخښنې مياشت ده نو مونږ به شپه ورځ د دې ډير قدر کولے، ډيره خوشحالي به مو کولے او د فرائضو سره سره ښه نوافل، د قرآنِ کريم تلاوت او اعتکاف وغيره نه به مو د الله پاك د دې ميلمنې مياشتې ښه ميلمستيا کولے، خو آه! زمونږه حالت خو په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هُم تقريباً د عامو ورځو په شان وي، نه د عبادت شوق، نه د تلاوت جذبه، نه د نيکو کثرت، نه د بخښنې سامان، مونږه غافله خو ډير په غفلت سره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مياشت تيروُو خو د الله نيکان خلق د هغوئي ټول ژوند د الله پاك او د هغه د خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ياد کښې تيرِيږي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هغوئي خپل عبادت نور هم زيات کړي، د الله پاك په فضل و کرم سره امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د الله پاك د مقبولو او مقرّبو بندګانو نه دے.

## اميرِ اهلِسنّت او رمضان

هسې خو د اميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه هر وخت د الله پاك د رضا او فرمانبردارئ والا کارونو کښې تيريږي خو په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې ئې د عبادت و رياضت شوق و ذوق دومره زيات شي چې څه به وائې! تقريباً د اويا کاله عمر کيدلو باوجود هم هغوئي په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هره ورځ 20 رکعته تراويح په ولاړه ادا کوي. (خو آه! تقريباً! د تيرو

دوَو کالو نه د جوړونو د درد په وجه د مفتي صاحب او د ډاکټر په مشوره په ناسته لمونځ ادا کوي).

نه صِرف د تراويح بلکه د کمزورئ او د ډیر عمر باوجود د اشراق، څاښت، اوّابين، وغیره هم اهتمام کوي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هره ورځ په ګینټو ګینټو د علمِ دين ښودلو، د نيکئ دعوت عام کولو په جذبه د دين و دنيا بیشمیره موضوع ګانو باندې مشتمله مدني مذاکره کوي چې په هغې کښې د لـمانځه، اوداسه، غُسل، روژه، زکوٰة، قربانئ او معاشرتي، کاروباري او کورَني او نور ډیر شرعي مسائل بيانوِي. په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هره ورځ د مازديګر نه پس او د تراويح نه پس د دوو مدني مذاکرو سلسله وي .

## نهه ځله دِيدارِ مصطفٰی ﷺ (مدني بهار)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د الله پاك مقبول بندګانو په صُحبت کښې کښيناستل، د هغوئي خبرې اوريدل او په هغې باندې عمل کول ډيره د سعادت خبره ده، خوش نصيبه دي هغه عاشقان رسول چې د امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په مدني مذاکرو کښې شرکت کوي او علمِ دين زده کوي، په مدني مذاکرو کښې د شرکت کولو څه ښکلې برکتونه دي او مدني مذاکرے د څنګه څنګه خلقو ژوند بدل کړے دے د دې په حواله يو مدني سپرلے واورئ او خوشحاله شئ! چنانچه

د پاکستان يوه اسلامي خور د امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په نوم يو خط رااوليږو چې په هغې کښې ليکلي شوي وُو چې هغه مخکښې په بدمذهبِيت باندې داسې کلکه وه چې چا هډو خوزولے نه شوه ، هغه د پيرئ مريدئ هم سخته مخالفه وه، د هغې په ذهن کښې مختلف سوالات او اعتراضات وُو، په کور کښې د مدني چینل کتلو په ذريعه د امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په مدني مذاکرو او بيانونو کښې هغې ته د خپلو سوالونو او اعتراضونو جوابونه ملاويدل شروع شول، هغې ته داسې ښکاريده لکه امیر اهلسنّت دَامَتْ

بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ ته چې د هغې هر يو سوال معلوم وي، هغه وائي: چې کوم سوال به زما په ذهن کښې پيدا کيدو، په يو څو ورځو کښې به امير اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ په مدني چينل باندې د هغې جواب ورکولو، نتيجةً مدني چينل کتل د هغې معمول جوړ شو او دغه شان هغه د عاشقان رسول مدني تحريك ''دعوت اسلامي'' ديني ماحول سره وابسته شوه، په هغې باندې د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ د مدني مذاکرو برکتونه ښکاره کيدل شروع شو، هغې مدني بورقعه په سر کول شروع کړه او د دعوت اسلامي په ديني کارونو کښې ئې حصه اخستل هُم شروع کړل، د **الله** پاك په فضل و کرم سره هغې ته د فيضانِ شريعت کورس مُعَلِّمه [اُستاذه] او په علاقه کښې د ډويژن مشاورت نګرانه جوړيدلو سعادت هم ملاؤ شو. هغې ته د دعوت اسلامي ديني ماحول کښې هغه څه ملاؤ شو چې د بيان نه بهر دي هغه په قسم سره بيان کوي او وائي چې هغې ته نهه ځله د **الله** پاك د آخري نبي، مكِّـى مَدَنـى، **مُحَمَّدِ عَرَبِى** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار نصيب شوے دے، چې په هغې کښې دوه ځله داسې ديدار اوشو چې د زمانے ولي، اميرِ اهلِسنّت د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر دے او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ نه ډير خوشحاله ښکاري، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! دا ايمان افروز منظر ئې چې اُوليدو نو د هغې عقيده نوره هم مضبوطه شوه چې صرف مسلكِ حق اَهلِ سُنَّت، مسلكِ اعلىٰ حضرت صحيح دے. د **الله** پاك دِ په امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بے حسابه بخښنه اُوشي. اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللهُ عليه واٰلهٖ وسلَّم

خوفِ خدا و عشقِ مصطفےٰ علم و عمل اِصلاحِ معاشرہ
فقہِ شریعت و طریقت کا ہے مجموعہ مدنی مذاکرہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رمضان شان

حکیمُ الاُمَّت، حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **رَمَضَان** د **رَمَض** نه جوړ دے او د دې معنٰي ده ګرمي یا ګرم، ځکه چې بتهٔ ګنده اوسپنه صفا کوي او صفا اوسپنه قیمتي جُوړَوِي او سره زر د **محبوب** په غاړه کولو لائق جوړَوِي، دغه شان روژه د ګنهګارانو ګناهونه معاف کوي، د نیکانو بندګانو دَرَجے اُوچتوي او د اَبرارو قُربِ الٰهي زیاتوي، په دې وجه دې ته **رمضان** وائي، او دا د **الله** پاك رحمت، **محبّت**، ضمان، امان او نُور راوړي، په دې وجه ورته رمضان وائي. خیال ساتئ! چې رمضان دا پینځه نعمتونه راوړي او پینځه عبادتونه: روژه، تراویح، اعتکاف، شبِ قدر کښې عبادتونه او د قرآن تلاوتونه. په دې میاشت کښې قرآن کریم نازل شو او د دې میاشتې نوم په قران کښې ذکر دے. (مراٰۃ المناجیح ج 3، ص 133)

تجھ پہ صدقے جاؤں رَمضاں! تو عظیم الشان ہے
تجھ میں نازِل حق تعالٰی نے کیا قرآن ہے

## د خوشحالئ درې موقعے

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ریښتونے عاشِق، امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: زما د ژوند د خوشحالئ درې موقعے دي: (۱) د ربیع الاوّل شریف اَوَلَنَئ دولس وَرځې، خصوصاً عِید مِیلاد النّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یعني د 12 رَبِيعُ الْاَوَّل ورځ (2) د مدینے منوّرے حاضري او (3) د روژے د میاشتې راتلل. (مدنی مذاکرہ، شوال 1435ھ مدنی پھول نمبر ۱۰)

## د ټولې دنیا نظام بدل شي

**اے عاشقانِ رمضان!** خوش نصیبه مسلمان د **الله** پاك د میلمني میاشتې رمضان ډېر بےحده احترام کوِي، د دې مبارکې میاشتې د راتلو سره د ټول جهان رنګ روښانه شي، جماتونه د لمُونځ ګزارو نه ډك شي، عاشقانِ رمضان د روژو ډېر اهتمام کوي، د پیشمني او روژه ماتي په وخت کښې يو ښائسته ماحول وي چې د هغې بیان نه شي کيدے لکه د دنیا نقشه چې بدله شي، واړه واړه ماشومان د دې میاشتې په راتلو خوشحاله کيږي او خوشحاله به ولې نه وي چې په دې میاشت کښې **الله** پاك په خپلو بندګانو باندې د خپل فضل و کرم داسې باران راوَرَوِي چې هره ورځ په لکونو ګنهګار خلق د جهنّم د اور نه ازادَوِي، آه! کاش چې! مونږه هُم د عاشِقِ رمضان اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په شان د رَمَضَانُ الْمُبَارَك حقیقي قدردان جوړ شو، مونږ له پکار دي چې د **الله** پاك د خوږې میلمني میاشتې په ښه طريقه استقبال اوکړو او ډېرې نیکئ اوکړو او اے کاش چې! رَمَضَانُ الْمُبَارَك زمونږ د پاره د بخښنې سبب جوړ شي. عاشِقِ رمضان اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د **الله** رَبُّ الْعِزَّت په بارګاه کښې عرض کوي:

میں رحمت، مغفرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں
مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ

## د امیرِ اهلِسنّت رمضان سره مینه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! بانئ دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د **الله** پاك د هغه بندګانو نه دے چا چې لکونو مسلمانانو ته نه صرف د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې د ادب و احترام صحیح طريقه زده کړه بلکه په حقیقي معنو کښې ئې د خلقو په زړونو کښې د دې بابرکته میاشتې محبّت پیدا کړو. هغوئي فرمائي: زما د رمضان د میاشتې سره بےحده مینه ده ځکه چې دا د **الله** پاك هغه میاشت ده چې د دې هر ساعت د رحمت نه ډك دے، په دې کښې د ګنهګارو

بخښنه کیږي، زه ټول کال د دې مبارکې میاشتې انتظار کووم، کله چې د چا نوم ''رمضان'' اورم نو په ما ډېر ښه لګي، کله چې د رَجَبُ الْمُرَجَّب میاشت راشي نو زما په زړه کښې د خوشحالۍ یو کیفیت پیدا شي چې د رجب شریف میاشت راغله لکه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك دروازه چې بیرته شوه، او زړه کښې وایم چې دغه ده د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت راغله، هغوئي فرمائي: د رَجَبُ الْمُرَجَّب، شَعْبَانُ الْمُعَظَّم او رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشتې زما ډېرې خوښې دي، ځکه چې په دې کښې د روژو کثرت وي. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك سره د عاشقِ ماهِ رمضان د محبت انداز خو اوګورئ چې هغوئي تقریباً ټول کال دا دعا غواړي: اَللّٰهُمَّ بَلِّغْنَا رَمَضَانَ بِصِحَّةٍ وَّعَافِيَة، یعني اے **الله**! مونږه رمضان ته د صحت و عافیت سره اُورَسَوے. لهٰذا مونږ له پکار دي چې دا دعاګانې لولو.

واسِطہ رَمضان کا یا رب! ہمیں تُو بخش دے | نیکیوں کا اپنے پلّے کچھ نہیں سامان ہے
کاش! آتے سال ہو عطار کو رَمضاں نصیب | یا نبی! میٹھے مدینے میں بڑا ارمان ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې استقبال

اے عاشقانِ رَمضان! 24 شَعْبَانُ الْمُعَظَّم 1431هجري بمطابق 5 اګست 2010ء باندې عاشق رمضان امِیر اهلِسنّت د دعوت اسلامي عالمي مدني مرکز فیضان مدینه کښې یو منفرد موضوع باندې بیان اُوکړو چې د هغې نوم وُو: ''استقبالِ رمضان'' دې د سنّتو ډک بیان کښې عاشق رمضان امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتللو نه مخکښې د زرګاؤ عاشقان رسول په مینځ کښې داسې دُعا اوفرمائیله: یا **الله** پاکه! ستا د محبوب په وسیله مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك راتللو پورې د صحت و عافیت سره ژوندي لرې

او مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشتې نه محرومه مه کړې، زمونږ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت ډیره خوښه ده، مونږ ته خو د اوس نه داسې ښکاري چې دا تشریف وړي نو زمونږ به څه کیږي؟ مونږه د اوس نه نِیَّت کوُو چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ټولې روژے به نیسو، ټولې تراویح به کوُو، هر یو لمُونځ به د جَمعې سره ادا کوو، اِنْ شَآءَاللّٰه، اے الله پاکه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اَوَلَنَۍ شپه راتلونکې ده، په ما ګنهګار باندې د رحمت نظر اُوکړې. ټولو عاشقان رسول چې عالمي مدني مرکز کښې جمع دي په دې ټولو باندې د رحمت نظر اوکړې، مدني چینل کتُونکو باندې هم د رحمت نظر اوکړې، اےالله پاکه! مونږه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك قدردان جوړ کړې. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د راتللو نه مخکښې مونږه ښه نیکان جوړ کړې او داسې نیکان مو کړې چې قبر ته هم نیکان لاړ شُو. زمونږ ټول بد کارونه، د ګناهونو ګندګۍ ختمې کړې او مونږه پاك او صفا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په میاشت لیدلو کښې کامیاب کړې.

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك هِلال

**اے عاشقان رسُول:** اَمِیرِ اهلِسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت کتلو د پاره په خپله تشریف وړي، په لاسو کښې ئې مدني جنډا نیولې وي او په ډیر شوق د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت ګوري، خنګه چې د ''رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت'' ښکاره شي یا د ښکاره کیدلو اطلاع راشي نو د ډیرې خوشحالۍ په عالم کښې ئې بعضې وخت د سترګو نه د خوشحالۍ اوښکې مبارکې روانې شي، بیا په دې کیفیت کښې د ''رمضان کي آمد مرحبا'' نعرے لګوي. یو ځل عاشق رمضان امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه خپل د سنّتو ډك بیان کښې اُوفرمائیل: زه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د هِلال یعني میاشت نه قربان شم چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشت (یعني د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د اولنۍ شپې سپوږمۍ) کښې داسې کشش وي

چې زړه مې غواړي چې دا را اُونیسم او زړه ته ئې کوزه کړم او د رَمَضان هِلال له داسې کلکه غاړه ورکړم چې بیرته تللو ته ئې نه پریږدَم او که بیا ځي نو چې ما هم ځان سره بُوځي. (د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې د حصارولو او هغې سره د تللو د الفاظو مقصد رَمَضَانُ الْمُبَارَك سره د ډیر زیات محبت اظهار دے)۔

ماہِ رمضان کی آمد مرحبا ماہِ صیام کی آمد مرحبا
شہرِ رحمٰن کی آمد مرحبا ماہِ غفران کی آمد مرحبا

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك راتلل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عاشقان رسول ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په راتللو باندې مبارکي وَرکوِي او د ډیرې خوشحالۍ نه تُحفے هم ورکوِي: 1439 هجرۍ کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په اَوَلنۍ شپه باندې کیدُونکې مدني مذاکره کښې امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عاشقانِ رمضان ته داسې مبارکې وَرکړه: ټولو عاشقانِ رمضان ته دِ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك راتلل مبارك شي، ټولو عاشقان رمضان ته دِ د رمضان راتلل مبارك شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د کومو نُوراني ساعتونو چې انتظار وُو، **اللّٰه** پاك هغه مونږ ته رانصیب کړل، مونږه چې د هغه هرڅومره شکر ادا کړو کم کم او ډیر کم دے، **اللّٰه** پاك دِ مونږ ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَك قدر رانصیب کړي او مونږ ته دِ د عبادت کولو توفیق رانصِیب کړي. (مدني مذاکره، یکم رمضان 1439هجري)

الٰہی عشرۂ رحمت کی ہو گئی آمد | ہمیں بھی بھیک دے رحمت کی یا خُدا یا رب
کرم سے عشرۂ رحمت کو پا لیا ہم نے | تُو بخش عشرۂ رحمت کا واسِطہ یا رب
طفیلِ عشرۂ رحمت ہو ساتھ ایماں کے | ترِے حبیب کے جلوؤں میں خاتمہ یا رب

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د رمضان مبارکي ورکول سنّت دي

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په راتللو مبارکي ورکول د حدیثِ پاك نه ثابت دي. مشهور مُفَسِّرِ قُرآن، حضرت مُفتي احمد یار خان نعیمي رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاك د دې حِصَّے: اَتَاکُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُّبَارَكٌ یعني تاسو ته د رمضان میاشت راغله چې ډېره برکت والا ده، نه لاندې په مِرْاٰۃُ المناجیح کښې فرمائي: د برکت معنٰی ده کښیناستل، [په یو ځائے کلک] کیدل. د دې په وجه د اوښانو غوژل ته مُبَارَكُ الْاِبِل وائي چې هلته اوښان کښینوي او ترېي ئې. نو د خیر هغه زیاتوالي ته چې راشي او بیا نه ځي، هغې ته برکت وائي، ولې چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې حِسّي (یعني محسوس کیدونکي) برکتونه هُم وي او غیبي برکتونه هُم وي، په دې وجه د دې میاشتې نوم "رمضان" دے په رمضان کښې قدرتي طور د مومنانو په رزق کښې برکت کیږي او د هرې نیکۍ ثواب اویا چنده یا د دې نه هم زیات شي. د دې حدیث نه معلومه شوه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د میاشتې په راتللو باندې خوشحالیدل، یو بل ته مبارکي ورکول سنّت دي. (مراۃالمناجیح، ج3، ص137)

اَبرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نور نور　　فضلِ رب سے مغفرت کا ہو گیا سامان ہے

د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په اَوَلَنۍ شپه باندې د امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه په مخ مبارك باندې د نُورانیت آثار څه بل شان وي، [هغوئي رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ په دې خوشحالۍ کښې] د نوو یا اِستري کړو کپړو اهتمام کوي او پیشمني او روژه ماتي کښې د **الله** پاك په بارګاه کښې د هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د دعا کیف و سُرُور په لفظونو کښې نه شي بیانیدے. امیر اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه فرمائي: ما ته به د ماشوموالي نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك میاشتې ډیر خوند راکولو. زما د

روژو او رَمَضَانُ الْمُبَارَك سره ډېره مينه ده، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې زما يو خاص کيفيت وي چې هغه په ټول کال کښې نه وي، ځکه چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك د نيکئ کوُونکو او جنّت ته د تلونکو سيزن دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما ته په عالمي مدني مرکز (فيضان مدينه) کښې د پيشمني او روژه ماتي په وخت کښې کيدُونکي دعا ډېر خوند راکوي.

آگیا رمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو　　فیض لے لو جلد یہ دِن تیس کا مہمان ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جشنِ ولادتِ غوثِ اعظم

اے عاشقان غوث اعظم! حضرت شيخ عبدالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يکم رَمَضَانُ الْمُبَارَك د کُل په ورځ د صبا صادِق په وخت کښې دنيا ته تشريف راوړو، په هغه وخت کښې ئې په قلاره قلاره شونډو حرکت کولو او د **اللّٰه اللّٰه** وئيلو آواز راتللو. (الحقائق فی الحدائق، ص 139) چې په کومه ورځ هغوئي پيدا شو په هغه ورځ جيلان شريف کښې يوولس سوه (1100) ماشومان پيدا شو هغه ټول هلکان وُو او ټول وَلِيُّ الله جوړ شو. (تفریح الخاطر، ص58) غوث الاعظم پيدا کيدلو سره روژه اُونيوله او چې کله نمر پريوتو هغه وخت کښې ئې د مور پئ اوخښل. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ټوله مياشت کښې ئې دغه معمول وُو. (بهجة الاسرار، ص. 172) د الله ربّ العزّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

پیدا ہوتے ہی رکھے رمضاں میں روزے،دن میں دودھ　|　کا نہ اک قطرہ پیا یا غوثِ اعظم دستگیر

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اَوَلَنۍ شپه

په 1432ھ بمطابق2011ء د رَمَضَانُ الْمُبَارَك اَوَلَنَۍ شپه باندې كيدُونكي مدني مذاكره كښې عاشق رمضان اَمِير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په عالمي مدني مركز فيضان مدينه كښې د پوره مياشت اعتكاف كوُونكو خوش نصيبو د سوُونو عاشقان رسول په مخكښې د خوشحالۍ اظهار څه داسې اُوكړو: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې اولنۍ شپه ده، څومره ښكلې شپه ده لكه هر طرف ته چې نور راوَرِيږي، اللّٰه پاك دِ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د محبت دا داغ زمونږ په سينو كښې هميشه قائم ساتي او دا داغ دِ د شمعې په صورت كښې په قبر كښې زمونږ سره ملګرے اوسي او دې سره دِ اللّٰه پاک زمونږ د قبر تياره لرې كړي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په راتللو باندې هر مسلمان خوشحاليږي، په دې كښې د اسلامي ملكونو د مسلمانانو د ژوند انداز بدل شي، غير اسلامي ملكونو كښې د مسلمانانو په علاقو او كوڅو كښې د ژوند انداز بدل شي رَمَضَانُ الْمُبَارَك د ټولې دنيا د كروړاؤ مسلمانانو حالات بدلوِي ، خلق لمُونځونه او تراويح كوي، په لكونو مسلمانان د اعتكاف په صورت كښې په جمات كښې كښيني، په رَمَضَانُ الْمُبَارَك كښې چې څه دي هغه د دې نه علاوه كښې نه شي كيدے، رَمَضَانُ الْمُبَارَك ډير رحمتونه او بركتونه وَرَوِي.

يو ځل اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په اَوَلَنَۍ شپه ارشاد اوفرمائيلو: ما د نن شپې د پوره تراويح ادا كولو نه پس د اللّٰه پاك شكر ادا كولو د پاره سجدۀ شُكر اوكړه چې اے اللّٰه پاكه! ستا شكر دے چې تا ما ته د ټولو تراويحو ادا كولو توفيق رانصيب كړو. بيا ئې د تراويح سره د محبّت اظهار څه داسې اُوكړو: قَسم په خدائے! تراويح د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ډيره لويه تحفه ده، داسې اوګڼړئ چې تراويح جنّت ته بوتللو والا زمونږ ''**كيټ پاس**'' دے [يعني جنَّت ته د داخليدلو دروازه ده] چې دا سنّت مؤكده دي. كه

کيدے شي نو تاسو هم د تراويح ادا کولو نه پس د **الله** پاك شکر ادا کوئ چې اے **الله** پاکه! ستا شکر دے چې تا ماته د پوره تراويح ادا کولو توفيق رانصيب کړو.

## د تراويح سُنّت

**اے عاشقانِ رمضان!** اَلْحَمْدُلِلّٰه! په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې مونږ ته بيشميره نعمتونه هُم ملاويږي په هغې کښې د ''تراويح سنّت'' هم شامل دي او د سنّتو د عظمت به څه وائې! د **الله** پاك خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې زما د سنّتو سره محبّت اُوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي. (مشکوٰة، ج ۱، ص 97، حديث: 175) تراويح سنّت مؤکّده دي او په دې کښې کم از کم يو ځل قرآن پاك ختم کول هم سنّت مؤکده دي. (درمختار، ج 2، ص 596-601 ملتقطاً)

| | |
|---|---|
| سينه تِري سُنّت کا مدينه بنے آقا | جنّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |
| سِينه مې دِ شي جوړه د سُنّتو مدينه | جَنَّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږ آقا |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خاورو پيالئ پرې ګيره پريښوده (مدني بهار)

د کراچۍ (پاکستان) اُوسيدُونکے يو ځلمے، ډير فيشن اَيبل وُو، هره ورځ **مَعَاذَالله** يو فِلم کتل د هغه معمُول وُو او د سندرو او سازونو دومره شوقي وُو چې په بستره به ئې ځان ته يو وړوکے شان ټيپ ريکارډر کيښودو او په سندرو اوريدو اوريدو کښې به اُوده شو او سحر به چې څنګه راپاخيدو نو هُم فوراً به ئې سندرې اوريدل شروع کړې، د لوبو [کرکټ وغيره] شوقين او د خُلې نه دومره تيز وُو چې ښه قادِرُالکلام کس به هُم د هغه د

حاضر جوابئ نه پاتې راتلو، او د نيکانو خلقو د صُحبت نه د لرې والي په وجه د لمُونځونو نه هم لرې وُو، نادانه او بدو دوستانو سره سَيل تفريح له تلل او په هوټلو کښې د خوراك مقابلے کوَل د هغه د ژوند حِصَّه وه. هغه ځلمے د فيشن او د بد صحبت نه باعمله او نيك عاشقان رسول طرف ته داسې راغلو چې هغه ته چا د امير اهلسنّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان ''جہنّم کی تباہ کاریاں'' د اوريدلو د پاره ورکړو، بيان ئې چې واوريدو نو په لړزان شو، د ګناهونو نه ئې پخه توبه اُوکړه. 1411هجري کښې ګلزار حبيب کښې د دعوت اسلامي زيرِ اهتمام کيدُونکې اجتماعي اعتکاف د پاره ئې چا ذهن جوړ کړو، په ژوند کښې ئې اعتکاف کله هُم نه وُو کړے ځکه ئې چې يو دم د لسو ورځو د اِعتِکاف واوريدل نو جټکه شان ورته محسوس شوه، نفس هُم دا وسوسه ورکړه چې داسې خو به نائټ کرکټ ميچونه هم پاتې شي، خو د الله پاك او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رحمت سره ئې د قسمت ستورے اوځليدو او آخر دا چې ذهن ئې جوړ شو. د هغه ځلمي دوستانو ته چې کله د هغه د اعتکاف پته اولګيده نو هغوئي خپل دوست سره ملاقات د پاره راغلل، هغوئي د خپل دوست د شرارتونو نه ښه واقف وُو ، لهٰذا يو ملګري ورته په ټوقو کښې اووئيل: ''دا عاجزان مولانا صاحبان خو پريږده!'' يعني ته خو هر څوك بےوقوفه جوړوے، دا نيك خلق خو بےوقوفان مه جوړوه! خو د هغه ملګرو ته څه پته وه چې دا هغه پخوانے ماډرن ځلمے نه دے بلکه دا خو په مدني رنګ کښې رنګ شوے دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هم په هغه جمات کښې اعتکاف کولو. د اعتکاف په دوران کښې يوه ورځ امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خاورې په يوه پياله کښې اوبه اوڅښلې نو ډير مُعتکفين د الله پاك د دې مقبول بنده، ولئ کامل امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د نسبت د برکت حاصلولو د پاره د هغه پيالے حاصلولو د پاره بےقراره وُو، دا ځلمے هم د هغې په

طلب كوُونكو خوش نصيبو كښې شامل وُو. بيا دا اعلان اوشو چې دا پياله به هغه چا ته ملاويږي څوك چې د سُنَّت مطابق د ګيرې پريښودلو نِيَّت اوكړي. دا ئې چې واوريدل نو هغه سابِقه ماډرن ځلمے په دې نيت راپاڅيدو چې نور كه مې څټ كټ كيږي نو په نوم د مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِ صبا له نه بلكه نن دِ كټ شي خو ګيره به اِنْ شَآءَاللّٰه نه خريَم او د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه استعمال شوي پياله ئې واخستله، د ولِي كامل د تبرّك بَرَكت داسې ظاهر شو چې هغه ماډرن ځلمے نه صرف د ګيرې سعادت حاصلولو كښې كامياب شو بلكه په نورو سنّتو باندې عمل كولو والا هم جوړ شو او دعوت اسلامي والا جوړ شو د هغه ځلمي نوم ''حاجي محمد عمران عطاري'' دے، د **الله** پاك په رحمت او د هغه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر عنايت او د خپل مرشد كامل د اطاعت او فرمانبردارئ په وجه په ترقّئ كولو كولو اوس هغه د عاشقان رسول د مدني تحريك دعوت اسلامي د مركزي مجلِسِ شُورٰی نګران دے. د **الله** ربّ العزّت دِ په امير اهلِسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه باندې رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بےحسابه بخښنه اوشي.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلّى الله عليه واٰله وسلّم

| | |
|---|---|
| نګاهِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی | بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی |
| په نظر كښې د ولي مې دے ليدلے دا تاثِير | چې بدل ئې د زرګاؤ كړو تقدِير |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په روزئ كښې دبركت وظيفه

په یکم رَمَضَانُ الْمُبَارَك د ماښام د لمانځه نه پس چې څوك 21 ځله سورةالقدر (اِنَّآ اَنۡزَلۡنٰـهُ فِيۡ لَيۡلَةِ الۡقَدۡرِ) اووائي نو د هغه په روزئ کښې به داسې برکت کیږي لکه د اوچت ځائے نه چې اوبه ښکته طرف ته په تیزئ سره راځي، دغه شان په ډیره تیزئ سره به د هغه مال و دولت زیاتیږي او دغسې به د هغه تنګدستي لرې شي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَك قدر اُوکړئ

اے**عاشقان رمضان!** ژوند ډیر **مختصر** دے، عقلمند لره پکار دي چې څومره په دنیا کښې اُوسیږي دومره د دنیا د پاره او څومره چې په آخرت کښې اُوسیږي هغه هُمره د آخرت د پاره تیاري اُوکړي، مونږ ټولو له پکار دي چې خپل عبادتونه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې زیات کړو بلکه که کیدے شي نو ټول کارونه پریږدو او ټوله میاشت د رمضان اعتکاف اوکړو، مونږ ټول کال مال و دولت ګټو، پکار ده چې په دې مبارکه میاشت کښې د دې د تعظیم و احترام په وجه د دعوت اسلامي تحت په اجتماعي اعتکاف کښې د عاشقان رسول سره شرکت اوکړو او نیکئ اوګټو او د خپل قبر او آخرت فکر اوکړو، د ژوند څه پته چې بیا به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك دا مبارکې ورځې مونږ ته نصیب شي او که نه؟ ځکه چې رَمَضَانُ الْمُبَارَك خو به راتلونکي کال کښې بیا هم راځي خو زمونږ پته نه لګي چې مونږ به په دنیا کښې یُو او که نه، نِیَّت اوکړئ که **الله** پاك ته منظوره وه نو مونږ به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك یو ساعت هُم په غفلت کښې نه تیروو. عاشقِ رمضان امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ارشاد فرمائي: اےکاش! چې د رمضان میاشت مونږ په داسې حال کښې اُووِينو چې مونږ په فیضان مدینه کښې یُو او کاش! چې پوره رَمَضَانُ الْمُبَارَك مونږ په اعتکاف کښې په جمات کښې تیره کړو ځکه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك خوند خو د **الله** پاك په

کور '' جمات'' کښې ملاوِيږي په بازارونو کښې نه ملاوِيږي. ځوك چې د رمضان مزه په جمات کښې واخلي نو هغه به داسې خوږ شي چې اِنْ شَآءَاللّٰه قبر ته به هم هغه خوږ والے ځان سره يوسي. (بيان، استقبالِ رمضان)

| | |
|---|---|
| بھائیو بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں | پڑگئے دوزخ پہ تالے قید میں شیطان ہے |
| بھائیو بہنو! گناہوں سے سبھی توبہ کرو | خلد کے در کھل گئے ہیں داخلہ آسان ہے |
| کم ہوا زورِ گنہ اور مسجدیں آباد ہیں | ماہِ رَمضانُ المبارک کا یہ سب فیضان ہے |
| روزہ دارو! جھوم جاؤ کیونکہ دیدارِ خدا | خلد میں ہو گا تمہیں یہ وعدۂ رحمٰن ہے |
| دو جہاں کی نعمتیں ملتی ہیں روزہ دار کو | جو نہیں رکھتا ہے روزہ وہ بڑا نادان ہے |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## فيضان رمضان کتاب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رمضان سره د بے انتها محبّت اندازه د دې نه هُم اولګوئ چې هغوئي د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په فضائلو او مسائلو باندې مشتمل زيات و کم د څلور نيم سوه صفحو کتاب په نوم د '' فيضان رمضان'' ليکلے دے کوم چې د''فيضان سنّت'' يو باب دے. دا کتاب اُولولئ، اِنْ شَآءَاللّٰه! د ډيرو شرعي مسائلو سره سره به تاسو په خپل زړه کښې د رمضان سره محبّت زياتيدل ] محسوس کړی ځکه چې دا کتاب د ليکونکي د زړه د احساساتو ترجماني کوي.

## عالمي مدني مرکز کښې فيضان رمضان

الله پاك دِ توفيق دركړي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ټوله مياشت د الله پاك په كور كښې تيره كړئ، د دعوت اسلامي عالمي مدني مركز فيضان مدينه كراچۍ كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك خوند څه بل شان عجيبه وي هر ساعت د رحمتونو باران وي. ځكه چې په زرګاؤ عاشقان رسول د مختلفو ښارونو ، كلو او ملكونو نه صرف عاشق رمضان [اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُہُمُ الْعَالِيَه] سره د رَمَضَانُ الْمُبَارَك بابركته وختونه تيرَوَلو د پاره عالمي مدني مركز ته راځي.

## د عاشق رمضان عظيم الشّان اعتكاف

د خوږ رمضان خوږو عاشقانو! د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د فيوض او بَرَكَاتو او د هغوئي د مُخلِصانه كوششُونو په وجه د دعوت اسلامي اجتماعي اعتكاف كښې مُسَلسَل اِضافه كِيږي، د آخِرَئ عَشَرے د اعتكاف په باره كښې خو به تاسو ضرور اوريدلي وي خو د دې مثال به تاسو ته شايد چې مِلاؤ نه شي چې چرته عاشقان رسول د رمضان د پوره مياشتې اعتكاف كښې هُم اِجتِماعي طور شريك كيږي، داسې عظيم الشّان ديني كار صرف د عاشقِ رمضان حِصَّه ده، چا چې يو دوو يا سلو كسانو ته نه بلكه په زرګاؤ عاشقان رسول ته د رمضان پوره مياشت د الله پاك په كور كښې د تيرولو ذهن وَركړو او د الله پاك كورونه ئې آباد كړل.

## د ټولې مياشتې اعتكاف

جنّتي صحابي حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوايت دے چې يو ځل سلطانِ دو جهان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رمضان د اَوَلَنَي تاريخ نه د شَلَم رمضان پورې د اعتكاف كولو نه پس ارشاد اوفرمائيلو: ما د شبِ قدر تلاش كولو د پاره د رمضان د اَوَلَنئ عشرے اعتكاف اوكړو بيا مې د مينځنئ عشرے اعتكاف اوكړو بيا ماته اُووَئيلے شُو چې شبِ

قدر په آخرۍ عشره کښې دے لهٰذا په تاسو کښې چې څوك زما سره اعتكاف كول غواړي هغه دِ ئې اوكړي. (مسلم، ص457، حديث: 2769)

## اعتكاف كوُونكے د لمُونځ كوُونكي په شان دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له په ژوند كښې يو ځل د دې ادائے مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا كولو په نِيَّت د پورا رَمَضَانُ الْمُبَارَك اعتكاف كول پكار دي. هسې خو په جمات كښې اُوسِيدل ډيره د سعادت خبره ده خو د مُعتَكِف داسې شان دے چې د رضائے الٰهي د پاره د خپلو ټولو كارونو نه ځان فارغه كړي او په جمات كښې كښيني. په فتاوٰى عالمگيري كښې دي: د اعتكاف فائدے بالكل ښكاره دي ځكه چې په دې كښې بنده د **الله** پاك د رضا حاصلولو د پاره مكمل طور خپل ځان د **الله** پاك په عبادت كښې مصروفه كړي او د دنيا د هغه ټولو كارونو سره تَعَلُّق پريږدي كوم چې **الله** پاك ته نزدې كيدو كښې ركاوټ جوړيږي او د مُعتَكِف ټول وخت حقيقةً يا حُكماً په لمُونځ كښې تيريږي (ځكه چې د لمُونځ انتظار كول هم د لمُونځ په شان ثواب لري) او د اعتكاف اصل مقصد د لمُونځ انتظار كول دي او مُعتَكِف د هغه (فرشتو) سره مشابهت لري كومې چې د **الله** پاك نافرماني نه كوي او كوم حكم چې هغوئي ته كيږي په هغې عمل كوي، او د هغوئي سره مشابهت لري كومې چې شپه او ورځ د **الله** پاك پاكي بيانوي او په دې نه ستړي كيږي. (فتاوٰي عالمگيري، ج 1، ص 212)

## 1440 هجري 2019ء كښې د دعوت اسلامي عالمي مدني مركز فيضان مدينه كراچۍ ته د پاكستان د څلورو واړو صوبو نه د تشريف راوړونكو عاشقانِ رمضان ايمان افروز تاثرات

(1) د پاکستان صوبه بلوچستان نه تشريف راوړُونکے يو گورنمنټ ملازم "تاج محمد" صاحب وائي: زه ځکه د عاشق رمضان امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره اعتکاف کولو له راغلے يم چې دلته يو ډير ښه نظام جوړ شوے دے چې د دې په ذريعه د گناهونو نه حفاظت کيدے شي.

(2) د کراچئ د علاقے شاه فيصل کالونئ سره تعلق لرُونکے يو عاشق رسول وائي: چې دوه کاله مخکښې ما په خپله علاقه کښې د دعوت اسلامي زير انتظام اعتکاف کښې شرکت کړے وو، هغې ما ته دومره خوند راکړے وو چې ما نِيَّت اوکړو چې راروان کال به د شلو ورځو اعتکاف کوومه او دا کال زه اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پورا مياشتې د اعتکاف د پاره عالمي مدني مرکز فيضان مدينه کښې حاضر يم.

(3) د پاکستان د صوبه سندهـ د علاقے بدين سره تعلق لرونکے يو عاشق رسول وائي: زه په آرمي کښې اُستاد يم زه دلته مخکښې هم دوه ځله د اعتکاف د پاره حاضر شوے يم، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دلته دعوت اسلامي سره اعتکاف کولو کښې ډير خه زده کيږي، نور دا چې دلته عاشق رمضان امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پخپله موجود وي.

(4) د پاکستان صوبه پنجاب ساهيوال ښار سره تعلق لرُونکے يو خوش نصيبه عاشق رمضان وائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه د دعوت اسلامي زيرِ انتظام اعتکاف کښې پينځلّس ځله مُعتَکِف شوے يم، دلته عاشق رمضان امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پخپله اعتکاف کوي، د هغوئي محبّت مونږ دلته راولی، اِنْ شَآءَاللّٰه! د هغوئي برکتونه به حاصلوُو، د ژوند هيڅ پته نه لگي کم از کم يو ځل د عاشقِ رمضان امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره اعتکاف پکار دے.

(5) د پاکستان صوبه خیبر پختونخواه د مختلفو ښارونو (سوات، چارسدّه، مردان، شانګله، دِیر، وغیره) نه د عاشقان رسول یو پوره ډك بس د رمضان پورا میاشت د اعتکاف د پاره عالمي مدني مرکز کراچۍ ته حاضر شوے وو، په هغوئي کښې د سوات سره تعلق لرونکي یو وکیل اووئیل چې زه د عاشق رمضان امیر اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه سره پورا رمضان تیرولو د پاره راغلے یم او نِیَّت مې کړے دے چې دلته اوسیدلو کښې به ډیر ډیر برکتونه حاصلووم. **الله** پاك دِ ما ته په دې باندې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

(6) د کراچي یونیورسټي یو د ایم ایس سي پټرولیم طالبعلم د پورا رمضان میاشتې اعتکاف د پاره حاضر شوے وو، هغوئي اووئیل: چې زما مور مدني چینل ډیر په شوق سره ګوري، زه کاروبار (بزنس) هم کووم، رَمَضَانُ الْمُبَارَك زمونږ د ګټلو سیزن وي، خو ما نِیَّت کړے دے چې بس زه به په دې میاشت کښې د **الله** پاك عبادت کووم.

(7) د پرائیوټ سکول یو استاد خپل تاثرات څه داسې بیان کړي دي چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې مې د عالمي مدني مرکز ښکلي او زړه راښکونکي نظارے اُولیدلې نو ما ته داسې ښکاره شوه لکه ''مدینے'' ته چې راغلے یم. (مدني مذاکره، ۱رمضان بعد عشاء)

رحمتیں لوٹنے کے لئے آؤ تم
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

سنّتیں سیکھنے کے لئے آؤ تم
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

اِن شَآءَاللہ ہر کام ہوگا بھلا
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

مان بھی جاؤ عطار کی اِلتجا
مدنی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فیضانِ رمضان او مدني چینل

**اے عاشقان رَمَضَان!** په ټوله دنیا کښې کور په کور د قرآن و سنّت صحیح پیغام عام کولو والا دَ دعوتِ اسلامي الیکټرانك مبلِّغ "مدني چینل" هم د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په راتللو باندې د خلقو د اصلاح ذریعه جوړیږي، سل فیصده د شریعت مطابق چلیدُونکے مدني چینل د تیرو یو څو کالو نه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې خپل ټرانسمیشن زیات و کم شل ګینټے براهِ راست نشر کوي، او په کورونو، دُکانونو، فیکټرو کښې کار کوُونکي او بهر ملك کښې اوسیدُونکي اسلامي وروڼړو او خویندو ته د رمضان برکتونه رسوي. کیدے شي چې دا د دنیا وړومبے چینل دے چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې براهِ راست دومره اُوګږد ټرانسمیشن کوي.

مدنی چینل کے لئے جو ساتھ دے عطار کا　　اُس پہ ہو رحمت خُدا کی اور کرم سرکار کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اجتماعي اعتکاف برکتونه

**اےعاشقان رمضان!** کال په کال د دعوت اسلامي زیرِ انتظام په مُلك کښې او بهر مُلکونو کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په میاشت کښې د برکت حاصِلولو د پاره د اجتماعي اعتکاف سلسله وي، د دعوت اسلامي عالمي مدني مرکز فیضان مدینه کراچۍ کښې د اجتماعي اعتکاف خو به څه وائي ځکه چې په دې کښې د دُنیائے اسلام عظیم علمي و رُوحاني شخصیت اَمِیر اهلِسنّت د زرګاؤ مُعتَکِفِینُو سره اعتکاف کوي، د فیضان مدینه د اجتماعي اعتکاف د روحاني کَیفِیت منظرونه لیدلو د پاره رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې فیضان مدینه ته تشریف راوړئ او خپل زړونه یخ کړئ او که تشریف نه شئ راوړلے نو په مدني

چينل د اعتكاف منظرونه اوګورئ، اِنْ شَآءَاللّٰه! ستاسو ايمان به تازه شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! په دې اجتماعي اعتكاف كښې د اُخروِي سعادتونو سره سره ډير ځله د عاشقان رسول دُنياوِي مقصدونه هم پوره شوي دي، دلته د غوښتلو شوو دعاګانو په بركت بعضو بےروزګارو ته حلال روزګار ملاؤ شوے دے بعضو بيمارانو ته روغ صحت مِلاؤ شوے دے، بعضو بےاولادو ته د نارينه اولاد نعمت مِلاؤ شوے دے او د بعضو نورې پريشانئ لرې شوي دي. يو ډير لوئ ايمان افروز مدني بهار ملاحظه كړئ:

## د فالج وهلي لاس ښه شو

رَمَضَانُ الْمُبَارَك 1425 هجرئ كښې اجتماعي اعتكاف كښې د دعوت اسلامي په عالمي مدني مركز فيضان مدينه كراچئ كښې زيات و كم 3100 اعتكاف كوُونكي وُو، په هغوئي كښې د ضلع چكوال (پنجاب، پاكستان) د 77 كالو سپين ږيرے حافظ محمد اشرف صاحب هم معتكف وُو، د حافظ صاحب لاس او ژبې كار پريښودے وو او د اوريدلو قُوَّت ئې هم ختم شوے وُو. هغه ډير عقيدت مند وُو. په هغه ورځو كښې به د اعتكاف په دوران كښې د پيشمني او روژه ماتي په وخت كښې شيخ طريقت، امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د مختلفو عاشقان رسول خلقو ته تشريف وړلو او د هغوئي د زړه ساتلو د پاره به ئې د هغوئي سره طعام خوړلو [ياد ساتئ چې اَميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه له هميشه د كور نه طعام راځي]. په كومه ورځ چې د حافظ صاحب د حلقے نمبر وُو نو هغوئي د روژه ماتي په خوراك كښې ډير په حسنِ ظن [يعني نيک ګمان] سره د امير اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه د هغوئي جوته طعام واخستلو او اُوئې خوړلو او په اَميرِ اَهلِسُنَّت ئې ځان هُم دم كړو. د هغوئي نيک ګمان كار اوكړو، رحمتِ الٰهي په جوش كښې راغے او اللّٰه پاك هغه ته سمدستي شفا وركړه- په دې هغه ډير حيران وُو، هغه د زړګاؤ

اسلامي ورونړو په موجودګۍ کښې د فیضان مدینه سټیج ته اوختلو او د خپل عقیدت او محبّت واقعه ئې واوروله نو په فضا کښې د ''اللّٰه اللّٰه'' ذِکر خور شو. په هغه ورځو کښې ډیرو مقامي اخبارونو دا ښه خبر شائع کړو. د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دِ په اَمیرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه باندې رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږ بخښنه اوشي.

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صلَّى اللّٰه عليه واٰله وسلَّم

بیمار! نہ مایوس ہو تُو حُسنِ یقیں رکھ | دم جا کے کرالے کسی بیمارِ نبی سے

## د مومن په جوټه کښې شِفا ده

منقُول دي: سُؤْرُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعني د مُؤمِن په جُوټه کښې شِفا ده. (الفقهية الكبرٰى، ج 4، ص 52)

## د فرض روژو نيولو ترغيب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د مياشتې په راتللو چې څنګه عاشقان رسول ډير زيات خوشحاليږي، نو دغسې بعضې بدنصيبه داسې هم وي چې هغوئي په دې مبارکه مياشت کښې هم ځان د ګناهونو نه نه ساتي او د رحمتونو په مياشت کښې هُم د نيکۍ په لاره نه ځي او فرضو لمُونځونو او روژو کښې سُستي کوي بلکه بعضې بدنصيبه خو داسې نادان وي چې د خلقو په مخکښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ورځو کښې خوراك كوي، ياد ساتئ! د رَمَضَانُ الْمُبَارَك يوه روژه هُم بغير د اجازتِ شرعي نه قضا كول ګناه او حرام او جهنّم ته بوتلونکے كار دے او د پاسه پرې دا زړورتيا كول چې سرِ عام د خپلې ګناه اعلان كوي، توبه، توبه!! د زړه په اخلاص د ټولو ګناهونو نه توبه اوباسئ او دا ذهن جوړ کړئ چې زه به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك

ټولې روژے نیسم، ټول لمُونځونه به د جَمعې سره ادا کووم بلکه نوافل به هُم ادا کووم او اجر و ثواب به حاصلووم.

عاشق رمضان، امیر اهلسنّت دامَت بَرَکَاتُهُمُ العَالِيَه په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې کیدُونکو مدني مذاکرو کښې د مختلفو شرعي و معاشرتي مسائلو حل هُم بیانوِي، او مسلمانانو ته د ګناهونو نه د بچ کیدلو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د بَرَکتونو حاصلولو د پاره د روژو نیولو ترغیب هُم فرمائي، په یوه مدني مذاکره کښې ئې زرګاؤ عاشقان رسول ته اِرشاد اوفرمائیلو: د بےعملئ دَور دے، داسې اطلاعات هُم ملاویږي چې ډیرې داسې علاقے دي چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په ورځو کښې هُم هلته داسې ماحول وي لکه هډو رَمَضَانُ الْمُبَارَك چې نه وي، خلق سرِ عام خوراك کوي، هر یو اسلامي ورور دِ دا نِیَّت اوکړي چې زه به د رَمَضَانُ الْمُبَارَك ټولې روژے نیسم او کم از کم یو داسې مسلمان چې روژه نه نیسي په هغه باندې به انفرادي کوشش کووم، هغه به پوهه کووم او روژو نیولو ته به ئې تیارَووم ، اِنْ شَآءَاللّٰه! د دې به هُم ډیره فائده کیږي. (مدني مذاکره،۱ رمضان بعد عشاء)

روزے رکھواؤ تحریک — جاری رہے گی ،اِن شاءَاللہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

غم اٹھا ہم چارسو جلد آمہِ رمضان ہے
کِھل اُٹھے مُرجھائے دل تازہ ہوا ایمان ہے

الھون
۲۷ شعبان المعظم ۱۴۳۱ھ

اللہ عزوجل

جُمُعہ مبارک ہو ۔ جُمُعہ مبارک ہو

# دُعائے رَمَضان

رَمَضانُ المُبارک جب تشریف لاتا تو رحمتِ عالم صلی اللہ تعالیٰ علیہ واٰلہٖ وسلم یہ دعا پڑھتے:

اَللّٰھُمَّ سَلِّمْنِیْ مِنْ رَمَضَانَ وَسَلِّمْ رَمَضَانَ لِیْ وَسَلِّمْہُ مِنِّیْ ۔

ترجمہ: اے اللہ عزوجل! مجھے رمضان المبارک میں سلامت رکھ اور رمضان المبارک کو میرے لیے سلامتی والا بنا اور اسے مجھ پر سلامتی کے ساتھ گزار۔ (المواھب اللدنیہ ج ۳ ص ۴۱۰)

محمد الیاس قادری

۱۴۲۸ھ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ




فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران پرانی سبزی منڈی، بابُ المدینہ (کراچی)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com